# هغه اسلام
# چې موږ ورته
# بلنه کوو









Download from:aghalibrary.com

لیکوال: ډاکتر یوسف قرضاوي

ژباړن: محمد شفیق صادق

# سریزه

په اوسني عصر کې چې څومره د تخنیك، علم او تکنالوژۍ ګړندی یون پرمخ روان وي، په همغه اندازه به د نړۍ د تمد نونو او ټولنو ترمنځ د فرهنګونو، افکارو، او عقایدو اختلاط، رسیدل، او مقابله ګړندۍ کیږي ، هر څوك به هڅه کوي تر څو خپل افکار، تجربې، ثقافت او فرهنګ ډیر په بیړه د نورو لاس ته ورسوي، او هغوي پرې قانع کړي، څوك چې په دې مسابقه کې ګړندي ګامونه اخلي، او لاس په کار دي، هغوی به تر نورو مخکې خپل هدف ته رسیږي او څوك چې لاس تر زنه ناست وي ،هغوی به د کلتوري توفانونو په ګردلو کې را ایسار وي. مونږ پښتانه هسې هم په دې سیالۍ کې ډیر وروسته پاته یو، نورو ته د خپل ثقافت رسول خو لاڅه چې، په دې فرهنګي جګړه کې د ځان ساتلو توان هم نه لرو، له بده مرغه د خپل اسلامي فرهنګ د سم پیژند لو فرصت هم چا رانکړ، له بلې خوا د علم او تکنالوجۍ له کاروانه هم ډیر وروسته پاته یو، نو ځکه ډیر ځله د ښه او بد تمیز را څخه ورك شي، د خوږو او ترخو مزه را څخه هیره شي، دومره خوش باوره یو چې هر دښمن مو په دوستۍ کې وهي، او د هر چا خبرې ته دهوکې سر ښوروو. ددې لپاره چې خپل اصیل اسلامي فرهنګ او د ژوند حقیقي لاره مو ورکه کړې نه وي ، په دې پردي ثقافتي یرغل کې یوه کوچنۍ وسله له ځان سره ولرو، د محترم داکتر یوسف قرضاوي ګټوره رساله مې (الاسلام الذی ندعوا الیه) له فارسي ژبې پښتو ته وژباړله. له متعال خدای څخه هیله من یم چې د ژباړې حق مې اداء کړی وي، او دا کوچنۍ خو له معنې ډ که رساله لوستونکو ته ګټه وره وي.

په درنښت. محمد شفیق (صادق)

نیټه: ۳۰/۴/۱۳۸۸

بسم الرحمن الرحيم

الحمد لله الذی بنعمته تتم الصالحات وبفضله تتنزل الخيرات والبركات و بتوفيقه تتحقق المقاصد والغايات، والصلاة والسلام علی رحمة الله المهداة للعالملين، وعلی اهله وصحبه ومن دعا بدعوته و اهتدی بسنته و جاهد جهاده الی يوم الدين .

ورونږ اوخويندو! تر هر څه وړاندې تاسو ټولوته دلوی خدای له لوري پاك او سپيڅلی سلام وړاندې کوم، او وايم السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.

الله تبارك وتعالی دې موږ ټولو ته دخپل دين ددعوت، اطاعت اوخدای پالنې توان راپه برخه کړي، او ټولو هغو کسانو ته هم چې ددې تالار او مرکز په جوړولو کې ئې برخه اخيستې، ددې سپيڅلي او دميني ډك پرگرام په برابرولو کې ئې هڅې کړې ،الله تعالی دې زموږ ورور او استاذ ته هم لوی اجر په برخه کړې، او الله تعالی دې هغه دخپلې خوښی څخه بر خمن کړي، دهغه ټولو ورونږ اوکار کوونکو ته دې هم الله تعالی د کړو زحمتونو نيکه بدله په برخه کړي، الله تعالی دې دا شپه زموږ دنيکو اعمالو په تله کې حساب کړي.

ورونږ او خويندو! زمونږ دنن شپې د وينا موضوع ده:

**(هغه اسلام چې موږ ورته بلنه کوو)**

داچې ولې مو دا موضوع غوره کړې؟ په دې اړوند به نن شپه په تفصيل خبره کوو:

## ۱- هغه اسلام چې سيکولرستان يې غواړي

په اسلامي او عربي هيوادو کې د مسلمانو دعوتگرو او سيکولر ډلو تر منځ لويه شخړه روانه ده چې له بده مرغه دا دهغو نيواکگرو او ښکيلاكگرو ديرغل نتيجه ده چې ډير کلونه يې دمسلمانانو په ځمکه

واك موندلی وو، هغوی ډيرې هڅې وکړې ترڅو ددې امت اصلي هويت اوځانګړتيا له بيخه راوباسي، خپل وارداتي او راوړي رواجونه، آداب، پروګرامونه، نقشې او عقايد په موږ په زور وتپي. خو کله چې دښکيلاك کرغيړن سيوری زموږ له سره اوچت شو،او زموږ له هيوادونو ولاړل، نو ئې موږ ته داسي کسان په موږ واکمن پريښودل ،چې دښکيلاك په ټاکلې لار روان ؤ، دهغوی لاره ئې وهله، دوی بيا د مسلمانانو له زامنو داسي شاګردان وروزل چې يوازې په ميراثي توګه مسلمانان ؤ، چې موږ ورته جغرا فيائي مسلمانان وايو، دوی په اسلامي هيوادونو کې زږيدلي او لوی شوي، خو اسلامي فکر او عقيده نه لري؛غواړي مسلمانان پاته وي خو له اسلام پرته ژوند وکړي؛ که له اسلامه څه ورسره وي ،نو يوازې به تر فرد پورې شخصي مسائل وي. يعنې دوی غواړي اسلام يواځې دانسان او پروردګار ترمنځ په شخصي تړاو بدل کړي. دسينې له قفصه تيری ونه کړي ،که دسينې له قفصه راووځي بيا دجومات په ديوالونو کې ايسار شي؛ (له بده مرغه) دجومات آزادي هم نه مني تر څو پکښې دحق آواز او چت شي، دوی خو يوازې تر کنترول او څارنې لاندې جوماتونو او ممبرونو ته دفعاليت اجازه ورکوي، دوی هغه اسلام غواړي چې آزادي ونه لري، هرڅه بايد دواکمن نظام په خوښه ترسره شي، هرډول چې دوی وغواړي هسې ورته چوکات جوړ شي. دا هغه واکمن دي چې د استعماري ټرونونو تر سيوري لاندې را لوی شوي، په همدې فکر روزل شوي.

له همدې امله په هغو مسلمانو بلونکو چې کامل او جامع اسلام ته بلنه کوي نيوکې کوي، او دلارې خنډ يې ګرځي.

پخوا به دوی په ښکاره په اسلام نيوکې او حملې کولې، دوی به ويل: هغه اسلام نه غواړو چې موږ وتړي، په خپلو ويناؤ به يې فخر کاوه، هيڅ

شرم او ویره یې نه درلوده، ډیر په لوړ آواز به یې ویل:موږ غواړو گام په گام په لویدیځ پسې حرکت وکړو، د لوید یځ دتمدن خواږه او ترخه ، ښه او بد... هر څه ومنو ،تر ډیره وخته ددوی همدا شعار ؤ. خو اوس مهال چې کله دوی داسلامي بنسټ پال یون په وړاندې، دڈې سرتیري لښکر په وړاندې، چې بنسټ یې په ټولو اسلامي هیوادو کې په ځوانو مسلمانو هلکانو او مسلمانو نجونو او اسلامي اصیل فرهنگ ولاړ دی، ماته خوړلې، نو اوس بیا نه وایي چې موږ اسلام نه منو، اوس یې ځانونه د خپلو بې بنسټه او دروغو غوښتنو او پلمو تر شا پټ کړي او وایي: تاسو موږ اسلام ته رابولئ، خو دا کوم اسلام دی؟ اسلام خو ډیر ډولونه لري. دوی دا ویناوې له خپلو یهودي او مستشرقو ښوونکو اوریدلې، هغه خلك چې گمان کوي مسلمانان په یوه فکر راټول ندي، فکر کوي اسلام ډیر ډولونه لري، اسلام دمکان ، زمان او مذاهبو له مخې ډیر ډولونه لري؛ آسیایي اسلام، افریقایي اسلام، عربي اسلام، ترکي اسلام، هندي، اموي اسلام، عباسي اسلام ،عثماني اسلام، صوفي اسلام، سلفي اسلام، سني اسلام، شیعه اسلام...دوی دا راز ویناوې له خپلو یهودي او مستشرقو استاذانو، لیډرانو، څیړونکو او پلان جوړوونکو اوریدلي. دوي وایې موږ کوم اسلام ته را بولئ؟ ددوی یوه ویاند تیر اوړی (دوبی) هم د سیکولر ډلو په نمایندگئ دقاهرې په کانفرنس کې وویل: موږ کوم اسلام ته را بولئ؟ دسودان اسلام، دایران اسلام اوکه د پاکستان اسلام ته؟

کله کله خو بیا اسلام خلکو ته منصوبوي او وایي: د نمیري اسلام، دخمیني اسلام، دضیا الحق اسلام دروحانیونو اسلام، د نظامیانو اسلام او دپاچاهانو اسلام، خو زموږ ځوا ب دادی: هغه اسلا م چې موږ ورته بلنه کوو، په کوم ښار، هیواد، لاره، توکم، زمان او مذهب پورې تړلی ندی،

زموږ اسلام همغه دقرآن او سنتو اسلام دی، همغه د حضرت محمد(صلي الله علیه وسلم) اسلام .که څوك غواړي زموږ هغه اسلام چې موږ ورته بلنه کوو وپيژني نو قرآن دپرانیسي، صحیحو سنتو او صحاح کتابونو ته د مراجعه وکړي ، تر څو پوه شي چې موږ څه ته بلنه کوؤ ؟

دوی غواړي په موږ ددوی د خوښې اسلام وتپي، تر څو د پردې تر شاه ورته د تخریب او تور لګولو لاره ومومي، ددې کسانو څخه یوه کس وویل:آیاغوړئ موږ دپاچاهۍ هغې دورې ته وروګرځوئ چې ویل به ئې: (هرڅوك چې راته ووائي له خدایه ویره وکړه! ورمیږ به ئې ورکټ کړم)، آیا غواړئ موږ داسې او هسې دورې ته وروګرځوئ....؟ دوی په تاریخي بې لاریو او سرغړونو پسې ګرځي، غواړي اسلام نیمګړی وښیي، دا څومره دتعجب ځای دی؟ ولي اسلام د حجاج بن یوسف ثقفي او دهغو په شان نورو بې لارې او ظالمو واکمنو په نیمګړتیاؤ تورن کوي؟ دتعجب ځای دادی: کله چې دوی ته دحضرت ابوبکرصدیق، عمربن خطاب، عثمان، علی، عمر بن عبدالعزیز(رضی الله عنهم).... (دحکومتونو او عدالت) خبره کوو نو وائي: هغه وختونه بیا راتلای نشي. دوی دخلکو بې لارۍ او سرغړوني په اسلام ورتپي،خو داسلام حقانیت او استقامت نه مني، دا څه ډول منطق دی؟

کله وائي: غواړئ موږ هغې پادشاهۍ ته راوغواړئ چې ویل به ئې :(که څوك راته ووائي له خدایه ویره وکړه، ورمیږ به ئې ورکټ کړم). دوی ددې دوړې یادونه کوي،خو نه وايي: موږ دهغه امیر دورې ته ورګرځیدل غواړو چې کله به هغه ته وویل شول، له خدایه ویره وکړه! داسې ځواب به یې ورکړ: (که همدا خبره ونه کړئ نو په تاسو کې خیر او برکت نشته، او که دا ډول خبرې زموږ غوږونو ته ونه رسیږ ي، په موږ

کې هیڅ خیر او برکت نشته. او هغه حضرت عمر (رضي الله عنه) ؤ. ولې نه وايي: موږ د هغه امیر دورې ته ورکرځیدل غواړو چې ویل به یې: (تر څو مې ستاسو په منځ کې دالله تعالی اطاعت کاوه، زما اطاعت وکړئ ،او کله چې دګناه او معصیت په لاره روان شوم، بیا زما اطاعت په تاسو واجب ندی.... که مې ښه عمل کاوه زما مرسته وکړئ اوکه مې ګناه وکړه نو سمې لارې ته مې را وګرځوئ) او دا حضرت ابو بکر صدیق (رضي الله عنه) ؤ.

یوه بل امیر به ویل :له تاسو څخه چې هر یوه زما (له سمې لارې) کوږوالئ ولید نو ما د راسم کړي. چې داد عمر (رضي الله عنه) وینا وه. او کله چې په ځواب کې ورته وویل شول: که مو په تاسو کې له سمې لارې کوږوالی، ولید نو د تورو په تیغ به دې را سم کړو.نوهغه ویل :(د الله تعالی شکر ادا کوم چې د عمر په رعیت کې داسې کسان هم شته چې د عمر کوږوالی د تورې په تیغ راسموي).

دوی ولې هغه اسلام غواړي چې ددوی د غوښتنې او مزاج دروازه جوړه شي؟ نو هغه اسلام چې موږ ورته بلنه کوو هغه کوم اسلام دی؟

## زموږ اسلام همغه لومړنئ اسلام دی

هغه اسلام چې موږ ورته بلنه کوو، دلمر غوندې روښانه او ښکاره دی، دقرآن او سنتو اسلام ،ددې اسلام سرچینې او بنسټونه رڼه او روښانه دي.

په اسلامي شریعت کې قطعي او ظني مسایل شته، قطعي مسایل هغه دي چې داسلام بنسټ جوړوي ،ددې امت عبادت، عقیدې ،اخلاقو ،آدابو، او عملي ژوند ته د فکري ډګر او عملي کړنلارې عینیت وربښي ،په ټولیزه توګه قطعي مسایل د اسلام ستنې او بنسټونه جوړوي، ظني مسایل هم بې هوده ندي پرېښودل شوي، هغه هم د ځینو اصولو، قواعدو او ظوابطو په واسطه کنترول شوي، هغه ته اصول او قواعد ټاکل شوي.

مسلمانانو داسې علم رامنځ ته کړ چې بشر په متمدنو ټولنو کې هم نه وو لیدلئ، ددې علم دنده ده تر څو د هغو مسایلو دلایل کره کړي، کوم چې صریح نص پکښې راغلی او یا ندی راغلی؛ چې دې علم ته د اصول فقه علم وايي. نو په اسلام کې هیڅ حکم او امر پرته له ساتونکي او څارونکي پاته ندی؛ او هر حکم محکم، استوار او کره دی. نو هغهٔ اسلام چې موږ ورته بلنه کوو روښانه نښې ،ستنې، بنسټونه او موخې لري.

موږ د بدعتونو، نفساني غوښتنو له را دننه کیدو وړاندې همغه لومړني اسلام ته بلنه کوو...موږ له کمي او زیاتي پرته پاك، سپیڅلي او سوتره اسلام ته بلنه کوو، هغه اسلام چې ددې امت تر ټولو غوره او په دین پوهو خلکو (صحابه کرامو او تابعینو)منلئ ؤ. هغه کسان چې ددې دین په روح اومقصد پوه وو، موږ هم د هغوی دپوهې او فهم په رڼا کې خپله لاره مومو. او دا هم وایو: د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) پرته د بل هرچا وینا منل کیدای او رد کیدای شي.

موږ هغه اسلام ته بلنه کووچې په هغه کې دزمانې د ستونزو دحل لپاره فکر،څیړنه او اجتهاد تجدید کیدای شي.تړلې فضاء، بندی فکراو مذهبي تعصب ته بلنه نه کوو، دټولو فقهې مذاهبو څخه ګټه اخلو، خو دا په دې معنی نده چې موږ یواځې په همدې څلورو مذاهبوکې ایسار یو، بلکې ټولو مذاهبو، دصحابه ؤ، او تا بعینو، دسلګونو جیدو فقهاؤ ویناؤ ته ارزښت ورکوو، هغوی موږته ډیر ارزښتمن میراث پریښی، موږ کولای شو دهغه څخه ګټه واخلواو خپله تنده پرې ماته کړو.

دهغو په رڼا کې دژوند کولو او پرمختګ لاره ولټوو، اسلامي شریعت په څو تاریخي پیښو کې نه خلاصه کیږي، دې شریعت په لویو او متمدنو ملتونو حکومت کړی، دعربو له ټاپو وزمې را اوچت شو په هغو هیوادو

ئې حکومت وکړ چې پيړۍ پرې فارس او روم حکومت کړی ؤ، اسلام په ټولو تمدنونو فارس، روم، هند، چين او دمصر په فرعوني تمدن حکومت وکړ،دهر نوي تمدن سره په مخامخ کيدو به نه يوازې د ستونزو سره نه مخ کيده، بلکه د هرې پيښې او خبرې لپاره يې په خپل وخت کې خپله فيصله او خبره درلوده، دهرې ستونزې او خنډ لپاره يې د حل خپله لاره درلوده، دالله تعالی په فضل همغه شريعت او قانون تر نن پورې پاته دی. موږ اوس هم کولای شو د اوسني عصر ټولې ستونزې د صحيح اسلامي اجتهاد په رڼا کې (چې د اصولو به پا بند وي او زموږ د سلفو د ميراث په واسطه به حق ته د رسيدو پلټنه کوي او ځان به د قرآن او صحيحو احاديثو پابند او ملزم ګڼي) حل او فصل کولای شو. لکن اجتهاد په بل نظر د زمانې حالاتو او ستونزو ته ګوري.

## لومړی اصل: اسلام پرته له کموالي او زياتوالي

هغه اسلام چې موږ ورته بلنه کوو هراړخيز، کامل، شامل او سوتره دی، هيچ کموالی او زياتوالی نه لري، په نسبتونو کې يې هيڅ ډول اختلال او تخريب نشته، تجزيه منونکی نه دی، او دځلورو اصلولو لرونکی دی :

موږ وايو اسلام کامل دين دی، نو کوم شی چې کامل وي زياتوالی نه مني. له همغې لومړۍ زمانې چې الله تعالی فرمايلي (الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلَامَ دِينًا)[1] يعنې: نن مو ستاسو دين تاسو ته کامل کړ او خپل نعمت مو په تاسو تمام کړ او اسلام مو يو غوره دين په تاسو پيرزو کړ، څوك حق نه لري داسلام په عبادت، عقايدو ،قوانينو او اصولو څه ورزيات او يا ترې کم کړي. په نورو اديانو کې چې زيادت راغلی د هغه لامل ددين دننه تحريف او تبديل دی ،چې

---

[1]- المائده (۳) آيت

خلکو پکښې ځان ته دتغیر، تبدیل او قانون جوړونې حق ورکړی ؤ، دوی په خپل لاس حلال او حرام ټاکل، څه چې به دوی په ځمکه حلال کړل، په آسمان کې یې هم حلال شوي ګڼل، په ځمکه ددوی هر تړون یې په آسمان کې هم تړلی ګاڼه. خو اسلام دا هرڅه ناروا او باطل اعلان کړل او دا ډول کړنې یې د شرك په اساس له منځه یوړې لکه چې:الله تعالی فرمائي (اتَّخَذُواْ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ اللّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ.......)[۲]. یعنی:(یهود یانو او عیسویانو) پرته له خدای تعا لی خپل د دین علماء او راهبان هم په خدایي ونیول .

د جاهلیت په مهال هغه وخت چې عدی بن حاتم لا نصراني ؤ د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) په ځواب کې وویل:موږ خو دهغوی عبادت نه کووا، پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) ورته وفرمایل:آیا تاسو ته یې حرام ندي حلال کړي او تاسو هم هغه حلال ندي ګڼلي او حلال یې ندي حرام کړي او تاسو هم هغه حرام ندي ګڼلي؟ هغه ځواب ورکړ: هو همداسې ده، نو پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: همدا ددوی عبادت ګڼل کیږي.

اسلام دا ډول کړنې په کلکه رد کړې، او ټول یې له دې منع کړل، چې څوك دې په دین کې د مرکز په نوم، دسیمینار په نوم،د خلیفه یا امیر په نوم، ددین د مشرانو او رهبرانو په نوم څه زیات کړي او یا یې ترې را کم کړي.خو دعیسی (علیه السلام) ددین په شان دین شته چې تاریخ یې د داسې مقدسو مرکزونو په وجود شاهدي ورکوي چې د دین په عقایدو یې خپل نظریات ورزیاتول او ځینې دیني مسایل به یې ترې را کمول.په دین کې به یې تغیرات راوستل ،هر وخت به چې دوی هرڅۀ وغوښتل په عقایدو به یې وزیات کړل. یو ځل یې عیسٰی (علیه السلام) ته د خدای د

---

[۲]- التوبه (۳۱) آیت

زوی لقب ورکړ، بل ځل يې د خدای کالبد وګانه، يو ځل يې روح القدوس په خدايي ونيو، بل ځل يې بي بي مريم ته دخدايي مقام ورکړ،.. هر ځل به چې مرکز پريکړه وکړه هغه به ددين يوه برخه جوړه شوه. خو په اسلام کې څوك دا حق نه لري چې ددين په قوانينو او احکامو څه ورزيات، او يا يې ترې را کم کړي. په حديث شريف کې راغلي:(اياکم والمحدثات الامور...فان کل بدعة ضلا لة).يعنې په دين کې د نويو قوانينو له شاملولو ډډه وکړئ، ځکه هر بدعت ګمراهې ده. اودا هم فرمايي:(من احدث في امرنا هذا ما ليس فيه فهو رد) يعنې :چاچې داسلام په احکامو له ځانه څه ورزيات کړل په داسې حال کې چې په اسلام کې موجود نه وي هغه باطل او رد دي.

داسې کارونه لکه جعلي روپۍ غوندې باطل دي، چې څښتن ته يې بيرته وروسپارل کيږي،همدا شان ټول هغه بدعتونه او نوښتونه چې د اسلام په تاريخ کې د اسلام په دين ورزيات شوي ټول باطل او رد دي ،چې اسلام يې هيڅکله نه مني .په همدې توګه به اسلام سوچه او پاك پاته وي.

د الله تعالی فضل دی، داسلام په تاريخ کې داسې وخت ندی تير شوی چې په هغه وخت کې به داسې علماء موجود نه ووچې اسلامي امت يې ريښتينې لارې ته نه وي را بللی، او له بدعتونو يې انکار نه وي کړی. (وَمِمَّنْ خَلَقْنَا أُمَّة يَهدُونَ بِالْحَقِّ وَبِه يَعْدِلُونَ).[٢]. يعنې: زموږ په مخلوق کې داسې کسان شته چې حق ته بلنه کوي او په حق دعدل فيصلې کوي

## دوهم اصل: هغه اسلام چې کمځ نه مني

کله چې موږ هغه اسلام ته بلنه کوو چې هيڅ زياتی نه مني، همدا ډول هغه اسلام ته بلنه کوو چې هيڅ کمځ هم نه مني. دا دوهم اصل دی. نه

---

[٢]- الاعراف (١٨١) آيت

له اسلامه څه کموو او نه یې ورزیاتوو. وینو، د اسلام په تاریخ کې ځینو خلکو دعبادت او خدای ته دنیژدي کیدو په پلمه په اسلام کې زیاتوالۍ اوپه دین کې د نوښت هڅې کړې، خو دا کار هغو کسانو کړی، چې ددین په اصلي بنه او طبیعیت سم پوه نه وو، خو اوس مهال بیا ددین څخه د کموالي هڅې رواني دي غواړي د اسلام له تهداب او بنسټ څخه ځینې مهم مسایل را کم کړي، ځینې خلك د اسلام عقیده مني خو عبادت یې نه مني، دوی گمان کوي یو ازي په خدای تعالی ایمان درلودل کفایت کوي، عمل کولو ته اړتیا نه لیدل کیږي، ځینې نور بیا عبادت پرته له اخلاقو او اخلاق پرته له عباد ته غواړي، دوی وائي: همدا بس دي چې یو کس ریښتنی وي، دخلکوسره په عدالت،ریښتینولۍ اونیکی چلند ولري، نور نومهم ندي چې لمونځ وکړي یا هم روژه ونیسي، یواځې د زړه پاکوالی اونیک اخلاق هغه ته کفایت کوي. ځینې نور بیا د قران په یوه برخه عمل کوي او بله برخه همداسې پریږدي، د عبادت لپاره پا څیږي، د خوب په مهال آیت کرسی لولې خو نورې معاملې ئي بیا په سود او ربا تر سره کوي. دسود ورکونکو بانکونو سره معاملې لري. ای هغو کسانو !چې دتبرك لپاره آیت کرسي لولی له دې آیت وروسته په بل مخ کې هغه آیت هم ولولئ چې فرمائي:(يَا أَيُّها الَّذِينَ آمَنُواْ اتَّقُواْ اللّهَ وَذَرُواْ مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ)[٤]

یعنې: ای هغوکسانو چې ایمان مو راوړی! د الله د (عذاب) څخه ویره وکړئ او هر هغه څه چې د سود (په خلکو) لرئ هغه پریږدئ، که چیرې مومنان یاست.

[٤]- البقره (۲۷۸) آیت

د ننیو مسلمانانو لویه ستونځه داده چې اسلام یې ویشلی، هغه یې د قصاب د غوښې غوندې تر ساطور لاندې نیولی، د ټوټې کولو لپاره یې تیره چاړه را اخیستي .

ځینې ډلې شته چې له طلاق پرته ازدواج مني، ځیني نور بیا غواړي، طلاق او د ازدواجو تعدد له اسلامه وباسي، اسلام ته هم دنصرانیت غوندې اراده لري، ځینې نور بیا د اسلام صلحه مني خو جهاد یې نه مني، غواړي اسلام په هر حالت کي صلحه او په خلاینه ولري، دوی د جهاد د له منځه وړلو لپاره دا ډول صلحه غواړي، لکه څنګه چې دوی په نني پاکستان کې د انگریزي ښکیلاك د یوه گوداگي (غلام احمد قادیاني) په لاس د یوه نوي او د درواغود مذهب بنسټ کیښود. ددې مذهب دنده او لاملونه یوازې دوه څیزونه وو:

د جهاد حکم ته د پای ټکي ایښودل.

کافر او مسلمان پاچا اطاعت کول .

دا ښکاره خبره ده؛ هغه مهال ددې دوو مسئلو اوچتول ښکیلاك ته له خدمت پرته بله گټه نه درلوده، کله چې دوخت دحکومت (که کافر هم وي) اطاعت و منل شي پرته لدې چې جهاد ختم کړل شي بله به څه معنی و لري؟. د داسې کسانو څخه پرته چې داسلام صلحه او پخلاینه مني خو جهاد ئې نه مني، نور داسې کسان هم شته چې اسلامي عقیده او عبادت مني خو اسلامي قانون او حکومت نه مني، دا راز غوښتنې زیاتره د سیکولر ډلو له خوا خپریږي، ددې ډلو لویه موخه داسلام دسیاسي نظام او قانون له منځه وړل دي،ددې ډلو زیاتره د خلکو په لمانځه اداکولو، روژې نیولو یا کوم بل عبادت، اندیښنه نه ښکاروي ،خو که څوك غواړي اسلام د خلکو په ژوند حکومت وکړي، دټولنې سرنوشت

په لاس کې واخلي،یا په خلکو دالله تعالی قانون پلی او حاکم کړي، نو بیا اسلام ورته دمنلو نه وي او په کلکه یې مخنیوی کوي. نو څنګه ممکنه ده چې یوکس داسلام یوه برخه مني او بله د رد کوي؟لکه چې الله تعالی دالبقره په صورت کې فرمايي: (کتب علیکم الصیام) یعنې: په تاسو روژه فرض شویده، نو وایې دا منم، او کله چې فرمايي :(کُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ) یعنې: د وژل شویو په هکله په تاسو قصاص فرض شویدی ، بیا وایي دا نه منم، ځکه دا یو مدني قانون دی، دیني قانون ندی. نو ای مسلمانه! د (کتب علیکم الصیام) قانون منی، خو د (كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ)قانون نه مني!؟ اسلام دا ډول دوه مخې تګلاره نه مني، او دا کار ناروا او باطل ګڼي، ځکه! په دې وینا هغه وايي: د قرآن یوه برخه منم او بله یې نه منم. بني اسرایلو هم همداسې کول، خو الله تعالی ددوی هغه عمل په کلکه وغانده چې فرمايي:(أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ)[۵] یعنې: آیا د کتاب په ځینو(برخو)ایمان لرئ او ځینې (برخې) بیا نه منئ؟ .

## هغه اسلام چې ویش او ټوټه کیدل نه مني

اسلام تجزیه او ویش نه مني، له موږه غواړي مکمل یې ومنو. د ا سلام په صدر کې ځینو یهودیانو غوښتل چې اسلام په دې شرط مني چې دوی ته به ددوی د ځینې پخوانیو رواجونو او مذهبي مراسمو اجازه ورکول کیږي، خو اسلام ددوی دا غوښتنه رد کړه او الله تعالی وفرمایل:(يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ ادْخُلُواْ فِي السِّلْمِ كَآفَّةً وَلاَ تَتَّبِعُواْ خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ)[۶]آیت یعنې: ای مؤمنانو په اسلام کې مکمل اوپوره داخل شئ. همدا شان په بل آیت کې فرمايي: (وَلاَ تَتَّبِعُواْ خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ)

---

[۵]-البقره (۸۵) آیت

البقره (۲۰۸) آیت یعني ،اود شیطان پیروي مه کوئ. بل ځای فرمایي:(وَأَنِ احْكُم بَيْنَهُم بِمَآ أَنزَلَ اللّهُ وَلاَ تَتَّبِعْ أَهْوَاءهُمْ وَاحْذَرْهُمْ أَن يَفْتِنُوكَ عَن بَعْضِ مَا أَنزَلَ اللّهُ إِلَيْكَ)[۷].یعنې :اي محمده!د الله نازل کړي قانون سره سم د خلکو د چارو فیصلې وکړه، دهغوی دخواهشاتو پیروي مه کوه، پام کوه چې دا خلك دې په فتنه کې وانه چوي، یوه زره قدرې دې هم له هغه هدایت نه چې الله درته درلیږلئ اوښتئ ونه مومي.

اسلام نه مني چې څوك ووایي: زه په سلو کې پنځوس اسلام منم او نور نه منم، که داسې څوك وایي، نو آیا همدا به ریښتینئ اسلام وي؟

اسلام یوه کامله نسخه ده لکه چې داکتر ناروغ ته نسخه لیکي او ورته وایي: هغه غذا وخوره اودا دوا خوره ،دا له ډوډۍ وروسته وخوره او هغه مخکې..... دا یوه مکمله نسخه ده. که څوك دډاکتر د لاښوونې په خلاف ووایي: دډوډۍ څخه مخکې دوا خورم ،خو وروسته یې نه خورم، دا ممکنه ده چې دوا د ګټې په ځای زیان ورسوي، ځکه ددې نسخې دوا یو دبل مکمله ده ،له همدې امله موږ وایو: اسلام تجزیه نه لري، او ټولې برخې یې باید عملي شي.

او موږ اعلان کوو: هغه کامل اسلام ته بلنه کوو چې هیڅ زیاتوالی او کموالی پکښې نه وي. د اوسنۍ زمانې د مسلمانانو لویه ستونځه داده چې اسلام نیمګړی مني، داسلام یوه برخه ونیسي، بیا ګمان کوي چې په ټول اسلام یې منګولې ښلولې، نو داسلام نورو برخو ته ډیره پاملرنه نه کوي، دداسې کسانو مثال دهغو ړندو په شان دی چې فیل یې لمس کړی ؤ، ځینو د فیل شا لمس کړې وه، ځینو یې پښه، ځینو یې سر... خو کله چې د هغوی څخه د فیل د څرنګوالي په اړوند پوښتنه وشوه ،هغوی

---

۷- المائده (۴۹)

هریوه د فیل څخه دهغې برخې په رڼا کې تعبیر وکړ کوم چې لمس کړې یې ؤ، خو په حقیقت کې فیل داسې نه وو، بلکه فیل د ټولو هغو اعضاوو مجموعه ده کوم چې هغوی لیدلې وو .

همدا شان، ځیني مسلمانان د اسلام یوه برخه ټینګه ونیسي بیا فکر کوي چې همدا ټول اسلام دی، خو اسلام داخلاقو، عباداتو، عقایدو، ارزښتونو، معاملاتو.... په ګډون یو مکمل، شامل او کامل دین دی چې هیڅ تجزیه نه منې .دا کاملتوب باید په فهم او عمل کې درک کړل شي .نو نه ښایي چې د مسلمانانو په ژوند کې دا ډول دوه مخي ووینو، چې په جومات کې مسلمان وي ،په بازار کې بل څوک، د روژې په میاشت کې مسلمان وي، خو په نورو میاشتو کې بل څوک، او یا دا چې مسلمانه ښځه په کور کې لمونځ کوي، روژه نیسي، خو کله چې بازار ته ځي،بیا ټکری نه په سر کوي ،پښې پنډۍ او څنګلې لوڅې کړې. نو آیا دا به واقعي اسلام وي؟ نو موږ کامل، پوره، او جامع اسلام ته بلنه کووهغه اسلام چې په فهم او عمل کې یو شان وي، څه ترې کم نه وي.

**دریم اصل: هغه اسلام چې هیڅ تحریف او بدلون پکښې نه وي**

موږ له تحریف او بدلون پرته اسلام غواړو. په تأسف باید ووایم، په مسلمانانو کې داسي کسان هم شته چې د اسلام په فهم کې دغلط فهمۍ سره مخ شوي، داسلام په لارښوونو سم پوه ندي، او داسلام څخه غلط برداشت لري. ددي خلکو مثال دهغو کسانو دی، چې جامې یې چپه اغوستې وي، په دې اړوند حضر ت علي کرم الله وجهه فرمايي:دوی داسلام ځینې مسیل زده کړي خو په حقیقت کې ددین په واقعیتونو لکه څنګه چې دي، هسې ندي پوه شوي، لکه ځینوصحابه وو چې توکل په غلطۍ پیژندلي ؤ، دوی فکر کاوه چې توکل داسبابو پریښودلو ته وايي.

خو يوه عالم هم دا نه دي ويلي چې توکل د اسبابو او علتونو پريښودلو او وروسته يي نتيجه الله تعالی ته سپارلو ته وايي، لکه چې په حديث کې راځي: يوه تن خپل اوښ دکور د باندې په خپل سر خوشی کړی ؤ، کله چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ترې ددې کار پوښتنه وکړه: هغه په ځواب کی ورته وويل:په خدای مې توکل کړيدی، پيغمبر (صلی الله علیه وسلم) ورته وويل: ولاړ شه لومړی هغه وتړه بيا په خدای توکل وکړه. په جګړه کې هم بايد تجهيزات برابر شي لکه چې الله تعالی فرمايي: (وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ) [8] يعنې:د هغوی سره(د جګړې لپاره) څومره مو چې په توان کې وي، طاقت او ځواك تيار کړئ. همدا ډول په بل آيت کې هم فرمايي:(يَا أَيُّها الَّذِينَ آمَنُواْ خُذُواْ حِذْرَكُمْ فَانفِرُواْ ثُبَاتٍ أَوِ انفِرُواْ جَمِيعًا [9] آيت يعنی: ای مومنانو!پام کوئ او (ددښمن د مقابلې لپاره) خپل تياری وساتئ. څومره چې توان لرئ تياری وکړئ، وروسته جګړې ته ورودانګئ، په دې توګه به تاسو په الله توکل کړی وي، پيغمبر (صلی الله علیه وسلم) د هجرت په مهال همداسې وکړل، هغه ټول لازم امکانات برابر کړل، د اسبابو او عللو څخه يې کار واخيست، د سفر د سورلۍ لپاره يې اوښان تيار کړل،د لارې ملګری حضرت ابوبکر(رضي الله عنه)او د لارې لارښود يې (عبد الله بن ارقيط) اود پنا لپاره يې دمدينې له مسيره ليري غار وټاکه، پيغمبر (صلی الله علیه وسلم) ښه چمتو والی ونيو،او د يوه ښه مناسب او دقيق پلان په درلودلو يې سفر پيل کړ .

وروسته له ښه تياري، کله چې مشرکين راغلل، او غار يې محاصره کړ، ابو بکر صديق (رضي الله عنه) وفرما يل: که ددوی يو تن د پښو له ځای

---

[8]- انفال (٦٠) آيت

[9]- النساء(٧١)

ځخه موږ ته وګوري خامخا به مو وويني. پيغمبر (صلی الله علیه وسلم) په پوره ډاډ او اطمنان هغه ته وويل:ای ابو بکره: دهغه دوو تنو په اړوند چې دريم يې خدای دی ستا څه ګمان دی؟او کله چې الله تعالی فرمايي: (لاتحزن ان الله معنا). همدا ريښتينی توکل دی. کله چې ستا په مخ کې کوم خنډ نه وي،د کايناتو په پروردګار چې اصلي مسبب دی ځان ونښلوه، که کوم توان اوطاقت لری د خپل توان سره سم هغه څه وکړه، وروسته يې نتيجه پروردګار ته وسپاره.

دخلکو يوې بلې ډلې بيا د ذهد او پرهيزګارۍ څخه غلط مفهوم اخيستی، دوی فکر کوي، ذهد ددنيا پريښودلو ته وايي، خو داسې نده. ته بايد ددنيا د ژوند او د ځمکې د آبادۍ لپاره هلې ځلې وکړي، زموږ علماؤ هم همداسي ويلي: د الله ددين د اصلي مقاصدو څخه يو هم د ځمکې آبادې.

## د الله تعالی ددين اصلی مقاصد او موخې

امام راغب اصفهاني (رحمه الله) وايي:

مکلف مسلمانان په مخ کې درې ا ساسي موخې لري:

۱-د الله تعالی عبادت(وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالإِنسَ إِلاَ لِيَعْبُدُونِ) [۱۰]يعنی: ما پيريان او ا نسا نان ندي پيدا کړي مګر د عبادت لپاره.

۲- **د ځمکې آ بادې**:(هوَ أَنشَأَكُم مِّنَ الأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا [۱۱]) يعنی:هغه خدای چې تاسو يې له ځمکې پيدا کړئ او د هغې آبادي يې ستا سو په غاړه کړه .

---

[۱۰]-د الزاريات سورت (٦٥)

[۱۱]-سورت هود (٦١) ايت

۲-دځمکې خلافت: (إِنِّي جَاعِلٌ فِي الأَرْضِ خَلِيفَةً [۱۲]) یعنی:زه په ځمکه د یوه خلیفه ټاکونکی (پیداکوونکی) یم..

نو زهد دځمکې نه آبادولو او د آبادۍ لپاره د هڅو او هاند پرېښودلو ته نه وايي، بلکه زهد دې ته وايي چې ددنیا د آبادۍ لپاره دومره هڅې او هاند وکړي چې آخرت در څخه هیر نشي ، دځمکې په لوړو په داسي حال کې چې په ارامۍ سره آسمان ته ګورى را وګرځي ، په دنیا د هغه چا غوندې ژوند وکړي چې تل یې آخرت په زړه وی، ددنیا د آبا دۍ لپاره دومره هڅې وکړي لکه هیڅ چې نه مړ کیږي، او د آخرت لپاره دومره هڅې وکړي لکه صبا ته چې مري او روح در څخه بیلیږي، د رسول الله(صلی الله علیه وسلم) د اصحابو همدا حالت ؤ اوهمداسي به یې ویل.زهد دې ته وايي چې ته ددنیا څښتن وي، نه دا چې دنیا ستا څښتنه وې، ته دنیا تسخیر کړي، نه دا چې دنیا مو تسخیر کړي، دنیا به ستا په لاس کې وي نه ستا په زړه کې.

همدا لامل و چې د عشره مبشره صحابه کرامو له ډ لې حضرت عثمان، ابوبکر، عبد الرحمن بن عوف،... غوندې بډایانو هم شتون درلود.

عبد الرحمن بن عوف خپله ټوله شتمنې، ځمکې او باغونه ،او هرڅه په مکه کې پرېښودل او د الله په لاره کې یې هجرت وکړ، په مدینه کې یې له سره بیا کار پیل کړ، کله چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دده او ربیع انصاري تر منځ د ورورولۍ تړون وکړ، نو سعد ورته خواست وکړ چې د خپلو دوو ښځو څخه به یوه طلاقه کړي تر څو عبد الرحمن ورسره واده وکړي، یو کور او نیمایي مال به یې هم ورکوي،خو عبد الرحمن د خپل ورور دا ایثار په مننه ځواب کړ او هغه ته یې وویل: خدای تعالی د ستا

[۱۲]-سورة البقره (۳۰)

په کور، کورنۍ او مال کي برکت واچوي، زه سوداګر يم، ماته د بازار لاره را وښيه. بازار هغه مهال د بني قنيقاع ديهوديانو په لاس کي وو، يهودانو هغه مهال هم په اقتصاد واکمن ؤ (لکه اوس چې واکمن دي) هغه په بازار کې د يهويانو سره د سوداګرۍ په ډکر کې سيالۍ پيل کړه، لږه موده ورسته په داسي حال کی رسول الله ته راغی چې د عطرو بوی ترې اوچتيده، پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) ترې د حال پوښتنه وکړه هغه په ځواب کې وويل :يا رسول الله واده مې کړی .پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) ترې پوښتنه وکړه: آيا وليمه (توی) د کړيدي؟ هغه ځوب ورکړ: نه يارسول الله! بيا رسول (صلی الله عليه وسلم) ورته وويل: توی وکړه ،اګر که يو پسه هم وي.

عبد الرحمن داسي څوك وو چې له صفره يې کار پيل کړ، خو کله چې وفات شو، د ابن سعد په وينا، دومره سره زر ترې په ميراث پاته شول چې په تبر يې ټوټې توټې کړل د هغه د څلورو ښځو څخه هرې يوې ته اتيا زره درهمه ورسيدل... عبد الرحمن (سره ددې چې ثروتمند وو) د اسلام د لښکر په مجهز کولو کې، د بې وزلو سره په مرسته کولو کې يې په زرګونو او ميليو نونو پيسې خرڅې کړې.

حضرت عثمان (رضي الله عنه) هم همداسې سړی ؤ، دنيا يې په لاس کې وه خو زړه او زړه پوښ ته يې نه وه ننوتلې ، دنيا يې د خپل خدمت لپاره کاروله نه داچې دوی د دنيا خدمت ته ولاړ وي هغه څه چې مهم دی هغه داچې: دنيا دخپل شهرت او مقام لپاره ونه کاروي، که دا کار وکړی، نو ته به ددنيا بنده او غلام جوړ شی چې همدې ته زهد وايي.

په تأسف سره، يوې بلې ډلې د اسلام لارښوونې تحريف کړې، له دې ډلو څخه يو هم هغه صوفيان دي چې غواړي په خلکو کې د رهبانيت او ملنګۍ طريقه خپره کړي، له همدې امله، ځينو خلکو د دنيا له ژوند

سره اړیکې پرې کړې، ځینو له توښې او نفقې پرته دغارونو او صحرا لمن نیولې، او یا هم له کار کسب پرته په تکیه خانو، زیارتونو او خانقاوو کې پراته دي، په داسې حال کې چې د کار او کسب توان هم لري، دا هغه لاره ده چې اسلام یې هیڅکله هم نه خوښوي.

حضرت عمر (رضي الله عنه) یوه ورځ دجمعې دلمانځه وروسته ځیني کسان په جومات کي (پراته) ولیدل ،له هغوی یي پوښتنه وکړه: تاسو څوک یاست؟دوی ځواب ورکړ: موږ په خدای تعالی توکل کړی، عمر (رضي الله عنه) ځواب ورکړ: ستاسو دا کار توکل نه، بلکه د نورو خلکو په غاړه د خپل بار او مسؤلیت اچول دي .....نو تاسو دا حق نه لری چې د روزۍ او نفقې له لټولو لاس واخلئ..... تاسو پوهیږئ چې الله تعالی له آسمانه سره زر او سپین زر نه اوروي، الله تعالی خلکو ته یو د بل په وسیله روزي ورکوي، آیا تاسو د الله تعالی دا فرمان ندی لوستی چې فرمایي:(فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِن فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيراً لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ) [۱۳] یعنی: کله چې لمونځ (دجمعې) ادا شي په ځمکه خپاره شئ د الله تعالی د روزۍ په لټه پسې ولاړ شئ. نو بیا یې توره را وایسته او دوي یې د تورې په زور پاځول. دا همغه اسلام دی، دکار او تولید اسلام.

ځینو مسلمانانو هغه مهال په اسلام ظلم او تیری وکړ، کله چې دوی غوښتل اسلام د صوفیانو له لارې وپیژني، البته زه ټول صوفیان نه یادوم ،شته داسي صوفیان چې خلك به یې کار کولو ته هڅول، هغوي به ویل: د صوفي سړي تسبیح باید اره او د آهنګرئ نور سامان وي، یعنی د کار په مهال هم سبحان الله ... ووایي، خو له بده مرغه ځینو بیا اسلام تحریف

۱۳- الجمعه (۱۰) آیت

کړ، داسلام لار ښوونې یې تحریف کړي. خو موږ هغه اسلام غواړو چې هیڅ ډول تحریف پکښې نه وي را غلئ

زموږ په زمانه کې یوه بله ډله غواړي د اسلام لوی رکن (زکات) له منځه ویسي ،په داسي حال کې چې زکات داسلام دریم یا څلورم رکن دی، په قرآن او سنتو کې دریم رکن ښودل شوی، او په قرآنکریم کې په (۲۸) آیتونو کې د لمانځه سره یو ځای ذکر شوی. اوس دوی غواړي ذکات د خپل میل او غوښتنې په آساس تفسیر کړي، موږ ته دانتقاد په لهجه وایي: غواړئ ټولنیز عدالت ،د افرادو او طبقو تر منځ پیوستون د صدقوپه بنسټ و دروئ؟ دوی گمان کوي چې زکات یوه اختیاري صدقه او فردي احسان دی، په داسي حال کې چې داسې نده. ځیني بیا پوښتنه کوي څه ډول سوسیالیزم غواړئ؟ آیا موږ د صدقو سوسیالیزم ته رابولئ؟ هغه صدقات چې دوی یې پیژني د نورو ادیانو د صدقاتو غوندې ندي. زکات یوه عملې صدقه ده. قرآنکریم هغه ته د صدقې نوم ورکړی الله تعالي فرمايي:(خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم) [14] یعنی ای پیغمبره! ددوی له مالونو زکات واخله تر څو په دې وسیله دوی پاك کړې.

بل ځای الله تعالی فرمايي(إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْفُقَرَاءِ وَالْمَسَاكِينِ) [15] یعنی صدقات (زکات) خاص د فقیرانو لپاره دی. همدا لامل دی چې صدقه د زکات دځښتن په ایمان دارئ گواهې ورکوي، لکه چې دمسلم په یوه حدیث کې راځي:(والصدقة بر هان) یعني: صدقه د ایمان دارئ دلیل دی.صدقه یا زکات داسي رکن دی چې لومړی باید په خپله خوښه ورکړل شي که داسی ونه شول بیا په زور او د توري په څوکه ترې

---

[14] - سورت التوبه (۱۰۳) آیت

[15] - التوبه (٦٠) آیت

واخیستل شي، اسلامي حکومت دا حق لري چې له خلکو په زور زکات واخلي، ځکه زکات په اسلامي شریعت کې فردي واجب ندی، بلکه دا په اصل کې یو ټولنیز واجب دی ،او داسې پروګرام دی چې اسلامي دولت پرې مکلف دی، تر څو یې د عملي کیدلو څار وکړي؛ له همدې امله قرآنکریم فرمايي(خذ) یعنې: واخله، نو زکات باید له بډایانو واخیستل شي او په فقیرانو وویشل شي، لکه چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د همدې موخې لپاره معاذ یمن ته واستاوه، له بلې خوا وینو چې قرآنکریم دا دنده هر چا ته نده سپارلې، او نه یې بې هوده پریښې، بلکه د را ټولولو لپاره یې یوې ډلې ته دنده سپارلې چې قرآنکریم ورته (والعاملین علیها) وايي، یعنې: عملي کارکوونکي، ددوی کار به دمالي او اداري سیستم برابرول، دزکات راټولول او ویشل وي، ددې ډلې معاش او اجره به هم د زکات له پیسو ورکول کیږي، تر څو د زکات په ورکړه او راټولولو کې کوم څنډ را نشي. آیا له دې هم ښه سیستم او سازمان شته؟ .

## دا فریضه دری ډوله څارونکي لري

**لومړی څارونکی:** د انسان له وجدان څخه سر چینه نیسي چې هغه د انسان ایمان دی، دیني او مذهبي احساس ،نو دالله تعالی څخه ویره اوډار تر ټولو لومړی مقام لري، چې لومړی څارونکی دی.

**دوهم څارونکی:** د اسلام هغه عامه عقیده ده چې امر په نیکۍ او له بدۍ منع کوي.

**دریم څارونکۍ:** اسلامي حکومت دی، که چیري کوم څوك د زکات له ورکولو انکار وکړي اسلامي حکومت دا حق لري چې ذکات ترې په زور واخلي. په تیر تاریخ کې هم د زکات د مانعینو په خلاف د جهاد اعلان شویدی.

موږ ته دا ثابته ده چې د تاريخ په اوږدو کې لومړنۍ حکومت چې د فقيرانو په ننګه يې مبارزه کړې اوپه همدې موخه يې لښکر را ايستلۍ هغه اسلامي حکومت ؤ.

کله چې حضرت ابوبکر صديق د زکات د مانعينو او مرتدانو په خلاف د جهاد په موخه لښکر تيار او د جهاد اعلان يې کاوه، نو يې د مشورې لپاره حضرت عمر (رضي الله عنه) ته موضوع وړاندې کړه، هغه ورته وويل: څه ډول له هغه چا سره جګړه وکړم چې لا ا له ا لا الله يې په ژبه جاري وي، د هغوی مال او وينه (پرته له حق څخه) سا تل شوې هم وي؟ ابوبکر صديق ورته وفرمايل: قسم په الله! زه به د هغه چا په خلاف وجنګيږ م څوک چې د لمانځه او زکات تر منځ توپير کوي، مګر که په حق سره وي. ځکه داد بيت الما ل حق دی.بيا يې وروسته وفرمايل:قسم په ا لله که څوک له ما څخه يو سيرلۍ (دوزې بچۍ) په يوه بل روايت کې (دحيوان هغه پړی چې حيوان پرې تړي) وګرځوي په داسې حال کې چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ته يې ورکاوه، زه به خامخا ورسره جګړه کوم. هغه همداسې وکړل، د زکات د مانعينو په خلاف يې جګړه وکړه .نو ايا فقيرانو او بې وزلو کومه مظاهره يا لاريون کړی وو؟ او داسلامي حکومت څخه يې دخپلو حقوقو د لاسته راوړلو غوښتنه کړې وه تر څو مسلمانان ددوی د غوښتنې په اساس عمل وکړي؟ دوی دا کار خپله دنده ګڼله او دا يې د بې وزلو په بډايانو حق ګاڼه، نو ځکه يې دې کار ته لاس اوږد کړ. اسلام زکات حق ګڼي، داسې حق چې ټاکلې اندازه ،ټاکلۍ وخت، دلګښت ځايونه، هغه کسان چې زکات پورې اړه لري ټول او ټول معلوم دي .دزکات د نصاب حد، اندازه، وخت، پيمانه، او د مصرف لارې چارې يې په اسلامي فقه کې په تفصيل سره واضح بيان

شویدي. خو په تأسف باید ووایو ځینې خلك وینو چې غواړي په دې لویه فریضه کې تحریف راولي، په همدې دلیل موږ پرته له تحریفه اسلام غواړو.

## څلورم اصل: د کارونو ترمنځ موازنه او دنسبتونوساتنه

ورونو او خویندو! موږ ټاکل شویو مکلفیتونو ته له اختلال پرته توازن او نسبتونه غواړو.

په اسلام کې د هر کار لپاره یوه ټاکلې اندازه او یو معیار ټاکل شوی، دا لازمه ده چې هر عمل ته په خپله شرعي مرتبه او درجه کې ځای ورکړو، د اعمالو ترمنځ نسبتونه او مرتبې سره ګډې نه کړو، کوم څه ته چې لومړیتوب ورکړ شوی هغه وروسته نه کړو، څه چې وروسته شوي هغه وړاندې نه کړو، ځینې مسایل په دین کې د اساس او بنسټ مقام لري، خو ځینې نور بیا دا مقام او منزلت نه لري، په اسلام کې عقاید د ټولو په سر کې مقام لري ، وروسته داسلام پنځه ارکان ځای لري، له دې وروسته نور فرایض چې له ارکانو را ټیټ ځای لري، ځینې نور مسایل دي چې د ځینو فقهاؤ په نظر له فرایضو را ټیټ او له سنتو لوړ مقام لري، چې هغو ته واجبات وایي .

مؤکد او غیر مؤکد سنت هم شته، دا هر یو بیل بیل مقام او منزلت لري.

همدا شان د هغو منکراتو تر منځ هم درجې او مرتبې وجود لري کوم چې مسمانان ترې منع شویدي، لکه چې په حدیث کې راغلي: الحاد، کفر، لوی او کوچنی شرك، نور کبیره کناهونه، د کبیره ګناهونو ترمنځ منزلت، دا تر ټولو لوړ مقام لري چې خلک په کلکه ترې منعه شوي، له دې وروسته صغیره ګناهونه دوهم مقام لري، چې حرمت یې قطعي دی، تر دې راټیټ متشابهات دي، چې په حلالو او حرامو یې د علماؤ تر منځ

اختلاف دی، او ددوارو احتمال پکښې شته، همدا ډول مکروهات هم په تحريمي او تنزيهي برخو ويشل شوي، همدا شان نور مسايل چې د خلکو تر منځ مشهور دي. موږ با يد ددې مسايلو تر منځ مرتبې وپيژنو، او ترمنځ يې اختلاف وساتو .د يوه مستحب کار په کولو د خکو تر منځ جنګ او جګړې را منځته نه کړو، په داسې حال کې چې علماو ويلي: په اجتهادې مسايلو کې انکار وجود نه لري.موږ بايد په دې مرحله کې اساسي او داتفاق وړموضوعاتو ته ډېره توجه ولرو، وروسته له يوې مرحلې بلې مرحلې ته اوچت شو، لکه يو زده کوونکی چې له لومړنی ښوونځی متوسطې ته، بيا ليسې ته، وروسته دليسانس له مرحلې ماسترئ او دوکتورا مرحلو ته پورته کيږي. دا سې ا نسانان شته چې يوازې د فرايضو ا داء او له منکراتو ډډه کول ورته کافي دي. وينو چې يوه اعرابي له پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) پوښتنه وکړه: يا رسول ا لله: په ما څه شئ واجب دي؟ هغه (صلی الله عليه وسلم) ځواب ورکړ: په تا په شپه او ورځ کې پنځه لمونځونه واجب دي.بيا اعرابي وويل: آيا نور څه هم پر ما واجب شته؟ پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) وويل :نه ! مګر داچې ته په خپله خوښه کوم کار وکړې. بيا اعرابي وويل: نور څه؟ هغه ورته وفرمايل: د رمضان د مياشتې روژه هم درباندې واجب ده. بيا اعرابي وويل آيا نور څه هم را باندې شته؟ هغه(صلی الله عليه وسلم) ورته وويل: نه ! مګر دا چې ته په خپله خوښه څه وکړې. بيا اعرابي ورته وويل: آيا له دې پرته نور څه هم راباندې واجب دي؟ هغه (صلی الله عليه وسلم) ورته وفرمايل: د زکات ورکړه هم په تا واجب ده. بيا يې وويل آيا له دې پرته نور څه هم په ما واجب شته؟ هغه(صلی الله عليه وسلم) ورته وويل:نه ! مګر دا چې ته يې په خپله خوښه ادا کړې. او فرايض يې ورته ذکر کړل. سړی چې په خبره پوه شو نو ويې

ویل:زما د قسم په خدای وي چې نه به څه ورزیات کړم او نه به یې ترې کم کړم. پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) چې کله د سړي خبرې واوریدې ویې فرمایل:که دا سړی رښتیا ووایي نو کامیاب شو .او یا دا چې: که رښتیا ووایي جنت ته به داخل شي. په بل ځای کې فرمایي: که څوك د جنت داهل په لیدو خوشهاله کیږي نو دې سړي ته د وگوري. پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) ددې اعرابي په فرایضو چې نه ورڅخه څه کم کړي او نه یي ور زیات کړي اکتفا وکړه. او دا طبعي خبره ده چې هغه(صلی الله علیه وسلم) له ابوبکر، عمر، عثمان، علي، عبد الرحمن بن عوف او نورو سابقینو مهاجرو او انصارو څخه داسې عمل نه مني.

وروڼو او خویندو! موږ باید په دې پوه شو چې په اسلام کې هر کار بیل نرخ او مقام لري، موږ ته نه ښایي چې د هغه له نرخ او ار زښت څخه څه را کم کړو. ددعوت د مرحلو تر منځ گډوډي، دعوت ته سخت زیان رسوي او هغه په شاراولي، د همدې کبله، موږ باید په سرنوشت جوړونکو مسلواوقضیو پسې وگرځو او په هغو ټینگاروکړو، که موږ په جزیي او وړومسلو باندې ډیر ټینگار وکړو نو لویې او مهمې مسلې به را څخه پا ته شي. دې ته باید ایشاره وکړم، چې د کارونو او مسایلو تر منځ انډول باید په خپل ځای وساتو.

## د مسلمانانو په لاس د اسلام په لومړیتوبونو او نسبتونو کې اختلال

ځینو مسلمانانو زموږ په زمانه او په دې وروستیو پیړیو کې داسلام لو مړیتوبونو اونسبتونو ته تغیر ورکړی، کله هم سنتو ته له فرضو اوچت مقام ورکوي ،دبیلگې په توگه:ځینې کسان وینو چې اووم حج ته ځي، او یا داچې هرکال د روژې په میاشت کې د عمرې حج ته ځي، خو د خدای

د بندګانو پوروونه چې دده په غاړه دي نه ورکوي، یا داچې له معامله کوونکي سره ظلم کوي، د خپلو مزدورانو او کاریګرو حقوق نه ورکوي.
نوای مسلمانه ! ددې په ځای چې اووم یا شلم حج ته ځې ولې د دې خلکو حقوق نه ورکوې؟ د خلکو حقوق او د هغوی پوروونه چې ستا په غاړه دي اداکړه. په حدیث شریف کې راغلي: (شهید ته ټول ګناهونه بخښل کیږي پرته له پور څخه) نو ای سړیه ! ته ګمان کوې چې عمره او حج به ستا له غاړې د خدای د بندګانو پوروونه ساقط کړي؟ ډیر مسلمانان په دې برخه کې غلط پوه شوي. زه ځینې مصري مسلمان وروڼه پیژنم چې له کوچنوالي ورسره بلد یم، هغوی چې هرکال حج ته تللي ما لیدلي، زما په یاد دي چې تر څلویښتو ځلو به حج ته تللي وي. ما له هغوی څخه یوه تن ته وویل: ای حاجي صاحب ! ته او ستا ملګري چې شمیر مو لسو تنو ته رسیږي هر کال د حج په مراسموکې ګډون کوئ او تاسو هر یو زیاتره له (۱۰۰۰۰)پونډه لګښت کوئ چې ستاسو ټول لګښت (۱۰۰۰۰۰) پونډو ته رسیږي، ولې دا دومره پیسې د افریقا قحطي ځپلو وږو او مهاجرو انسانانو ته نه ورکوئ ....؟ اسلام د نړۍ په ګوټ ګوټ کې څومره پیسو او مرستو ته اړتیا لري؟. هغه په ځواب کې را ته وویل: ستا خبره رښتیا ده خو کله چې د حج موسم را ورسیږي نو زما د حج ته تللو احساس را وپاریږي او شوق مې زیات شي خو هدف ګټه لاس ته راوړل دي. ماورته وویل: دا رښتیا ده چې دا کارهم یوه روحي ګټه ده، خو ولې په لومړتوبونو پسې نه کرځئ او ولې تر دې په ګټور کار پسې نه یاست؟ آیا دا به ښه وي چې مسلمانان همداسې پریږدو تر څو له لوږې مړه شي؟ او یا د عیسوي او یا کمونستي مبلغینو ښکارشي؟ په داسې حال کې چې

موږ د مرستې او کمك توان هم لرو، موږ څلويښتم حج اواويايمه عمره کوو؟ موږ بايد ددينې مسايلو ترمنځ اولويتونو ته پام وکړو .

موږ د اسلام په هکله دا ډول پوهه غواړو، موږ دې اصولو ته په پاملرنې د اسلام دلارښوونوپه نسبت کې، او د هغه تر منځ دحاکمو روابطو په نظر کې نيولو سره پرته له هيڅ زياتوالي او کموالي، پرته له هيڅ تخريب او اختلا ل څخه اسلام غواړو.

## داسلام تکامل او هر اړخيزتوب

موږ يوه جامع، کامل اومتوازن اسلام ته بلنه کوو، اسلام د بشر دژوندانه يو اړخ هم ندی پريښی په قانون او استدلال يې ورسره معا مله کړيده.

## د اسلام په فهم کې څلور اساسي ټکي

اسلام پو هنه څلور مهمې برخې لري چې غواړم هغوته لنډه کتنه وکړم.

لومړی برخه     دانسان نفس ته پاملرنه کوي،.

دوهمه برخه     ټولنې ته متوجه ده.

دريمه برخه     حکومت ته پاملرنه لري.

څلورمه برخه: ټولو کايناتو (د ځمکې آبادئ او تمدن) ته متوجه ده.

## لومړی برخه د انسان نفس

دا برخه دانسان نفس ته پاملرنه کوی، دانسان نفس په ايمان اوپاکی سره اصلاح کوی، دا دايمان هغه برخه ده چې د ژوند بنسټ جوړوي چې ايمان ورته ويل کيږی. موږ خپله ټولنه ترهغه نشو اصلاح کولاي، تر څو خپل نفس اصلاح نه کړو.نود ټولنې اصلاح دافرادو په اصلاح پورې تړلې او دافرادو اصلاح دهغوي د نفسونو پراصلاح پورې اړه لري. او همدا دخلکو داصلاح يوازينی لاره ده .

مارکسستان وايي: اقتصاد او توليد ته تغير ورکړی تر څو مو تاريخ ورسره تغير وکړي .خو اسلام وايي:په ځان کې تغير راولی تر څو مو په تاريخ کې تغير راشي.

الله تعالی فرمايي:الله تعالی دهيڅ قوم اوملت حالت ته ترهغه تغير نه ورکوي ترڅو خلك په خپله خپل حالت ته تغير ورنکړي.

دا په ژوند او ټولنه کې دالله د قوانينو يو ثابت قانون دي.

څه ډول په ځان او ټولنه کې تغير راولو؟دعقيدې له لارې کولای شو تغير راولو .په داسې توګه چې صحيح ايمان او صحيح توحيد دانسان رګونو ته ننه باسو تر څو پرته له يوه الله په بل څه راضي نشي.پرته له خدايه بل واکمن ونه مني، دغيرالله حاکميت ونه مني ،دا هغه توحيد دی چې ټول سپك او ذليل خدايان له منځه وړي،او انسان خپل تندی پرته له الله بل چاته په سجده نه ږدي له يوه الله پرته بل چاته په رکوع نه خم کيږي، يوازې الله ته اميد او طمع لري له هغه پرته له بل چا ويره نلري، دا هغه څه دي چې له انسانانو څخه داسې قهرمان جوړوي چې په صلحه کې آبادوونکی او په جګړه کې بريالی وي .دانسان کار خانه عقيده اويوازينی جوړونکی يې ايمان دی.

پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) دعربو سره څه وکړل،هغه عرب چې دعقل اوفکر په ډګر کې دومره وروسته پاته وچې تيږوته به ئې سجدې کولې ،دسخت زړه له امله به يې لونې ژوندی ښخولې خپل زامن به يې دلوږې وژل،کله چې دانسان عقل او زړه له کاره ولويږي نو انسان ته به څه پاتې شي؟ پيغمبر(صلی الله عليه وسلم) انسان دتوحيد او عقيدې په بنسټ له سره جوړ کړ.دجاهلو، شراب څښونکو، قماروهونکو، زناکارو، سود خورو عربو څخه يې قهرمانان وروزل، هغوی يې په ايمان، اخلاقو اوفضائلو ښکلي کړل.

دحضرت عمر (رضي الله عنه) په وخت کې د فارس دواکمنو يوه تن په داسې حالت کې مسلمانانود مسلمانانو ننداره کوله چې دوی اود سونه وکړل او ځانونه يې پاك کړل په داسې حال کې چې پخوانيو عربو پاکۍ ته پاملرنه نه درلوده،بيايې وليدل چې په منظمو صفونو کې يو په بل پسې د يوه امام تر شا دريږي،او صفونه ئې دملائکو په شان سره تړلي دي.هغوی ته ئې په ځير ځير وکتل او وئې ويل:عمر زما زړه او جيګر خوړلی،په ريښتيا چې دوی ته يې سپيڅلي اخلاق ښودلي،په زغرده بايد ووايم ، يوازينی څوك چې مسلمانان او حضرت عمر يې روزلي ؤ هغه محمد(صلى الله عليه وسلم)دالله تعالی رسول ؤ.

اوس موږ له وروسته والي شکايت لرو -په نورو ملتونو پسې روان و. موږته د دريمې نړۍ اوسيدونکي يا دپر مختګ په حال کې هيوادونه وايي چې همدا نوم د وروسته پاتې هيوادو لپاره تر ټولو ښه نوم دی .

زموږ او نورو ترمنځ دپر مختګ زيات واټن دی ،چې دا واټنونه نور هم زياتيږي، څه ډول کولای شو له لاسه وتئ حالت مو بيرته لاس ته راوړو او ځانونه پرمختللو هيوادوته ور ورسوو؟او يا دا چې، له هغو هم مخکې او ګړندي شو؟دا کار تر هغه دکيدو ندی تر څو په ځان کې هغه ايمان پيدا نکړو چې ويده ځواکونه مو راوخوځوي او نوی ژوند را په برخه کړي.هغه ايمان چې دعربو حالت ته ئی بدلون ورکړ، او هغوي ئي له سره جوړ کړل،هغه ايمان چې د فرعون په ساحرانو کې ئي بدلون راوست ،هغوی يې دهغو مارانوله لوبوراوګرځول، چه له پړيو او لښتو به يې جوړول، د بشرلار ښونکي يې ترې جوړ کړل .تر څو دوی ټول يو موټی د فرعون او دهغه د ظالمو ځواکونو په مقابل کې ودروي ؛ هغوی په پوره ايمان او يقين فرعون ته وويل:(هر فرمان چې غواړي هغه صادر کړه،ته يوازې په

همدې دنیافرمان صادرولای شي) ریښتینی ایمان (نه دروغجن)د میړنو کار خانه او د پهلوانانو ځای دی .
ایمان په امیدونو او ویناؤنه ریښتینی کیږي ،بلکه ایمان هغه دی چه په زړه کې ځای ونیسي او په عمل کی څرګند شي. لکه چې له حسن بصري او نورو علماؤ همدا ډول روایتونه راغلي. سلف صالحو ایمان دا ډول تعریف کړی: ایمان په ژبه اقرار ،په زړه باور او په اندامونو عمل کولو ته وايي، دا هغه ایمان دی چې په اخلاقو او نیکو کړنو کې څرګندیږي.
ایمان څو اویا شاخونه اوځانګې لري........
ایمان هغه دی چې قرآنکریم يې صفت کړی الله تعالی فرما يې:(قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ) [١٦]په تحقیق مؤمنان کامیاب او بریالي شول.
نیك اخلاق دایمان ثمره او نتیجه ده، دایمان او اخلاقو موضوع هغه موضوع ده چې مور په اسلام کې هغې ته بلنه کوو.
مور داسلام په دې روزنیزه برخه ټینګار کوو. چې هغه دمومن روزنه ده، که نارینه مؤمن وي یا ښځینه، دا همغه لومړنۍ برخه ده چې مور پرې په اسلا مي اید یولوژي او خپله ټولنه کې ډیر ټینګار کوو.

**دوهمه برخه:ټولنه**

د اسلام پوهنې دوهمه برخه هغې ټولنې ته ځانګړې شوې چې هلته پکښې ټولنیز عدالت واکمن وي، د اسلام دین ټولنیز دین دی،چاته اجازه نه ورکوي تر څو په دشته او غره کې په یوازیتوب کې ژوند وکړي، د اسلام له نظره انسان يو ټولنیز، ښاري او متمدن موجود دی. لکه پخوانیو چې ویلي وو (انسان یو ټولنیز حیوان دی)، او اوسنی علم هم ورته د ټولنیز حیوان نوم ورکړي. اسلام دا دنده لري چې ټولنیزې ستونزې

[١٦]- المومنون آيت (١)

حوارې کړي، انسان ته د یوه گوشه نشین په سترگه نه، بلکه د ټولنیز موجود په سترگه گوري، تر دې چې کله انسان په خپل کور کې هم لمونځ کوي نو وايي (إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ) یعنې ای الله موږ خاص ستا عبادت کوو او خاص ستا څخه مرسته غواړو. همدا شان وايي (اِهدِنَــــا الصِّرَاطَ المُستَقِيمَ ) یعنې ای الله موږته سمه او مستقیمه لاره را وښیه. قرآنکریم هم ټولنې ته خطاب کوي او فرمايي: (يَا أَيُّها الَّذِينَ آمَنُواْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ)[17] یعنې ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی! په تاسو روژه واجب شویده .نو ولې يې ويلي(يَا أَيُّها الَّذِينَ آمَنُوا ..) یعنې ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی او داسې يې ندي ويلي (یا ایها المؤمن)؟ ځکه اسلام د الله تعالی احکامو په پلي کولو ټولکی ضامن گڼي، لکه چې فر مايي (الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهمَا مِئَةَ جَلْدَةٍ وَلاَ تَأْخُذْكُم بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ...)[18].یعنې: نارینه او ښځینه زناکاران تر سلو دورو ووهئ ....او بیا هم فر مايي (وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُواْ أَيْدِيَهِمَا.)[19] یعنې :د نارینه غله او ښځې غلې لاسونه د گناه په بدل کې قطع کړی.... آیا ټول مسلمانان به هر یو د غله لاس غوځوي؟او یا به زناکار په دورو وهي؟ نه !ځکه اسلامي امت مخاطب دی، که چیرې چارواکي او دولتي مسؤلین دالله تعالی داحکامویه نه پلي کولوکې سستي وکړي گناه د ټول امت په غاړه پریروزي او ټول امت په هغه مسولیت کې شریك دی، هر ځوك دخپل توان په اندازه مسؤلیت لري ،په امت باندې لازمه ده چې بلنه وکړي

[17]- البقره آیت ( ۱۸۳)

[18]- سورت النور ( ۲) آیت

[19]- سورت المائده (۳۸) آیت

،دامر باالمعروف او نهی عن المنکر په واسطه خلك سمې لارې ته راوبولي .(وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ)[۲۰]. یعنی :نارینه مؤمنان او ښځې مومنانې یودبل دوستان او ملاتړي دی .اسلام په دې توگه ټولنې ته پاملرنه کوي، اوډیره پاملرنه یې د ټولنې هغو خلکوته ده چې حقوق یې له اسلامه مخکې ترپښو لاندې وو .اسلام د هغوی حقوق خوندي کړل لکه د زکات په برخه کې چې بحث پرې وشو. په حدیث شریف کې راغلي (ستاسو بریالیتوب، رزق او روزې یوازې ستاسو دکمزورو له امله در په برخه شوي، دا رزق اوروزي چې دلته ایشاره ورته شوې دهغوی د دعاء له برکته ورکول کیږي. له بل لوري حدیث دیته اشاره کوي چې د ټولنې همدا کمزورې طبقه چې زیاتره وخت ورته د اهمیت په سترگه نه کتل کیږي، ډیرئ یې د ټولنې بزگران، کروندگر، کسبه کاران، او صنعت کاران وي چې همدوی د صلحې او امنیت په مهال تولیدوونکي، او د جگړې په مهال د بریالیتوب په موخه د هرې بلا په وړاندې سپر جوړیږي، همدوی د ملك د اقتصادي پیاوړتیا او تولید لپاره هلې ځلې کوي. په لنډه کې که ووایو: همدا کمزورې طبقه د تولید او جگړې ځواك او دلښکر سپاهیان دي. له همدې کبله رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) فرمایي:(هل ترزقون و تنصرون الا بضعفاءکم) تر څو دا په گوته کړي چې همدې کمزورې طبقې ته په امن او جگړه کې پاملرنه وشي .

اسلام تر دې د مخه چې کمونستي، مارکسستي او سوسیالیستي ډلې دې قضې ته پام وکړي، او مخکې تر دې چې د کمزورو د حقوقو د ننګې په بهانه هلته او دلته گوندونه جوړ شي، پاملرنه کړې او د هغوی ننگه او

---

[۲۰] -سورت التوبه (۷۱) آیت

ملاتړ یې کړی. نو اسلام د ټولنې ټولنیز، اقتصادي، اوانساني حالت ته ډیره پاملرنه کوي .

## دریمه برخه:حکومت

د اسلام پوهنې دریمه برخه د ټولنې سیاسي اړخ ته ځانګړې شوې. اسلام خپل سیاسي نظام د عدالت او شورى په بنسټ درولئ، او اسلامي نظام باید د عدالت په ستنو ولاړ وي نه د ظلم او استبداد.

شیخ الاسلام ابن تیمیه (رحمه الله) وایي: الله تعالى د عدالت په بنسټ ولاړ حکومت او دولت ساتي ،اګر که دا دولت کافر هم وي خو ظالم او مستبد دولت خوار او ذلیل ګرځوي اګر که مسلمان هم وي. د مسلمان څخه هغه حکومت مراد ندی چې واکمن یې مسلمان وي، د مسلمان نوم پرې ایښئ وي خو د خپلو خلکو حقوق نه ورکوي، په خلکو ظلم کوي.

اسلام دې اړخ ته ډیره پاملرنه کوي په یوه بل حدیث کې راځي (د عادل پاچا یوه ورځ په عدل حکومت کول تر شپیته کاله عبادت غوره دی) او لکه حسن بصري (رحمه الله) چې فرمایي: عادل امام او پاچا هغه څوك دی، چې د خدای تعالى او د هغه د بنده ګانو تر منځ ځای ولري، د الله تعالى احکام او لارښوونې واوري او د نورو غوږونو ته یې ورسوي. دالله تعالى فرمان او لارښوونو ته په درنه سترګه وګوري. او د همدې لارښوونو په اساس په خلکو حکومت وکړي. همدا واکمن به د هغو اوو تنو له ډلې څخه وي چې الله تعالى به یې د قیامت په ورځ تر هغه خپل تیار کړي سیوري لاندې دروي ،کوم چې تر هغه پرته به بل سیورئ نه وي، دا ځکه، دې واکمن د خلکو تر منځ عدالت ټینګ کړی ؤ. الله تعالى

فرمايي:(وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُواْ بِالْعَدْلِ) [21] يعنې: کله مو چې د خلکو تر منځ فيصله کوله، په عدل او انصاف فيصلې وکړئ.

شورى هم د اسلامي نظام يوه مهمه ستنه او پايه ده ؛ خو داسې کسان شته چې د خلکو د خوښۍ پرته پرې حکومت کوی او هغوی په هغه لاره روانوي چې دوی يې نه غواړي،

يو ځلې ځينو کسانو د سيد جمال الدين له خولې خبره را نقل کړې وه چې ګواکې هغه ويلي: په ختيځ کې له يوه مستبد او عادل حاکم پرته ځوك پاڅون نشي کولای، خو له هغه نه داسې وينا حقيقت نه لري، ځکه دا ممکنه نده چې عدل او استبداد دې په يوه تن کې يو ځای شي، عادل سړی مستبد نشي جوړيدای. او مستبد عادل نشي کيدای. په داسې حال کې چې اسلام په ډيرو وړو مسائلو لکه: د ښځې او ميړه تر منځ پر روابطو يا ښځې او ميړه تر منځ چې د ماشومانو لرونکي وي او دهغوی تر منځ طلاق واقع شوی وي د مشورې کولو له قضيې غافل او بې پروا پاته ندي، نو څنګه به د دولت له کارونو غافل پاته شي؟ الله تعالی فرمايي (فَإِنْ أَرَادَا فِصَالاً عَن تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْهِمَا وَإِنْ أَرَدتُّمْ أَن تَسْتَرْضِعُواْ أَوْلاَدَكُمْ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ) [22] يعنې :که (والدين) وغواړي په خپله خوښه او رضا (ماشوم له دوه کلنۍ مخکې) له شودو ورکولو منع کړي نو په هغوی کومه ګناه نشته.

کله چې اسلام پلار ته اجازه نه ورکوي خپله لور د هغې له خوښې پرته د چا سره په واده کولو مجبوره کړې نو څه ډول به چا ته اجازه ورکړي د هغوی له خوښې پرته پرې حکومت وکړي؟

---

[21] - سورت النساء (٥٨) آيت

[22] - بقره آيت ( ٢٣٣)

په احاديثو کي راغلی، اسلام د لمانځه هغه امام چي خلك يي په امامت راضی نه وي غندی او دا امامت ښه نه گنی، نو کله چي د لمانځه غوندي د امامت وړه او جزيي موضوع الله تعالی ته د منلو نه وی، نو څه ډول به د هغه چا امامت او پاچاهي ورته دمنلو وړ وي چي د خلکو د خوښي پرته په هغوي حکومت کوي ؟

نو شوری له هغو مهمو ستنو څخه ده چې اسلامي ټولنه پرې ولاړه ده.

د مکي سورتونو په يوه سورت کې چې په همدې نوم مسما دی راغلي (وَأَمْرُهمْ شُورَى بَيْنَهمْ)[۲۳] يعني :د مسلمانانو کارونه يو دبل سره په مشوره حل او فصل کيږي. په يوه بل مدني آيت کې هم راغلي :(وَشَاوِرْهمْ فِي الأَمْرِ)[۲۴] يعني: په کارونو کې له هغوی سره مشوره کوه.

اسلام حکم کوي چې هيڅ مستبد به په مسلمانانو استبداد او زور واکي نه کوي ؛او نه به يې ناروا کارونو ته اړباسي. نو په اسلام کې کارونه په شوری او خلافت په بيعت اخيستلو تر سره کيږي. موږ د لويد يځ يا ختيځ د اصولو واردولو ته هيڅ اړتيا نه لرو، د الله (جل جلاله) په فضل ،هر هغه څه چې د يوه عادل، اسلامي، صالح حکومت لپاره په کار دي ،هغه په واك کې لرو. په دې شرط چې موږ اسلامي ټاکلې پولې او حدود و پيژنو قرآنکريم دهغو طاغوتيانو او زورواکو داستانونه چې په څمکه يې حکومت کاوه بې ځايه او بيهوده ندي ذکر کړي، مثلا: د فرعون، هامان او د هغوي د لښکرو داستانونه يې ددې لپاره بيان کړي، تر څو موږ هم نه ظلم وکړو ،اونه د هغو ظالمو واکمنو واکمني ومنو، کوم چې غواړي زموږ ملتونه د رمو په شان وکشوي او په زور پرې واکمن شي .اسلام دا

---

[۲۳]-سورت شوری(۳۸)آيت

[۲۴]- آل عمران (۱۵۹) آيت

راز د ظلم حکومتونه نه مني؛ تر دې چې قرآنکریم دداسي زورواکو لښکرې د هغوی له مشرانو سره غندلي ،الله تعالی فرمايي:(إِنَّ فِرْعَوْنَ وَهامَانَ وَجُنُودَهمَا كَانُوا خَاطِئِينَ) [25]. په بل آيت کې فرمايي:(فَأَخَذْنَاه وَجُنُودَه فَنَبَذْنَاهمْ فِي الْيَمِّ فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَة الظَّالِمِينَ) [26] يعني: نو موږ هغه او دهغه سپايان (سيند ته راکش کړل هغوی مو) ونيول او هغوی مو سيند ته لاهو کړل.

د لښکرو غندل ولې؟ ځکه، همدوی د ظالمو واکمنو ساتونکي او د هغوی په وړاندې سپر دي، اسلام د زورواکو واکمنو خدمتگاران غندي او هغوی ته د جهنم د سپيو خطاب کوي.

د اهل سنتو يو امام حضرت امام حنبل (رحمه الله) چې کله د خلق قرآن په فتنه کې مظلومانه بندي شو، شکنجه او وځورول شو، نو د زندان يوه ساتونکي د هغو احاديثو په اړوند چې د زورواکو د خدمتگارانو په هکله روايت شوي له نوموړي پوښتنه وکړه، هغه په ځواب کې ورته ووېل: هو دا صحيح احاديث دي. ساتونکي ورته ووېل: ښه نو ! زما په هکله څه وايې؟ آيا زه هم د زورواکو له ملگرو شميرل کيږم؟ هغه ورته وفرمايل: ته هم ظالم يې او دا احاديث ټولو هغو کسانو ته متوجه دي کوم چې ستا چارپيره دي، هغه کسان چې تاته آشپزي کوي، جامي د وينځي .... خو ته په خپله د ظالمانو او ستمکارانو له ډلې څخه يې .

اسلام راغی تر څو په ځمکه د ظلم او زور په ځای ،د انسان ژوند د عدل په ستنو ودروي .

---

[25]-د القصص سورت (۸ ) آيت

[26]-د القصص سورت(۴۰) آيت

## څلورمه برخه: د ځمکې آبادي او تمدن

د اسلام پوهنې دا برخه د ځمکې آبادۍ ته ځانګړې شوې، هدف یې د ځمکې آبادي او د تمدن جوړول دي. اسلام راغی تر څو د ځمکې او آسمان، دنیا او آخرت، عقل او زړه تر منځ اړیکې ټینګې کړي .د فردي او ټولنیزو مصلحتونو په بنسټ نوی تمدن په پښو ودروي، هغه تمدن چې د علم په بنسټ ولاړ دی، د معنوي پوړونو د لاسته راوړلو او اخلاقي پرمختګونو په لړکې مادي ابتکارونو او تخنیکونو ته لاس اچوي، د هغو تمدنونو سره چې ځمکې آبادوي خو د انسان ژوند تباه کوي، دنیا ودانوي خو آخرت ورانوي، کاملا توپیر لري. اسلام دانسان ژوند ته توازن او تکامل وربښي.

اسلام راغی تر څو تمدن رامنځ ته کړي، دهمدې کبله علمي، اقتصادي، نظامي، صحي او نورو هغو برخو ته چې د انسان ژوند ورسره تړلی خپله پوره پاملرنه کوي .

ځینې کسان ګمان کوي؛ که اسلامي نظام قایم شي نو دخوښیو، خوشحالیو، ساتیریو او خوندونو لپاره به ځای پاته نشي. خو دا بد ګمانې ده، په اسلام کې خوندونه او خوښۍ شته، خو د هغو نظامونو په خلاف چې خلك حرامو ته هڅوي، دفساد خپرولو، دجنسي غریزو او شهوتونو تحریك کولو ته یې رابولي، اسلام دا سي کارونه خوښي او خوشحالې نه ګڼي، اسلام معقولې خوښۍ او خوشحالۍ مني، لکه چې حضرت على کرم الله وجهه فرمایي: (کله چې زړونه دخوښۍ او خوشحالۍ څخه محروم کړل شي نو خفه او مړاوي کیږي ،لکه څنګه چې دانسان بدن خفه او ستړی کیږي، همداسي زړه هم ستړی او خفه کیږي ،نو باید د هغه د خوشحالۍ لپاره معقوله او لازمه لاره ولټوو). اسلام له انسانانو

غوارې؛ دژوند له ټولو نعمتونو ، خوراك، څښاك، جامو، سورلۍ، دښایست له سامانونو، دخوشحالۍ او ساعت تیرۍ له وسائلو په ښه توگه گټه واخلې.

**ورونو اوخویندو:**

د اسلام په هکله دا زموږ وړاندیز او داسلام اصلي تگلاره ده چې موږ ورته بلنه کوو، ښکاره خبره ده، .لکه څنگه چې سیکولرستان او بې دینان گمان کوي، موږ څوك بې لارۍ او گمراهۍ ته نه را بولو.

موږ خلك هغه اسلام ته را بولو چې پولې یې ټاکلې، بنسټونه یې روښانه، ریښې ئې ټینگې او شاخونه ئې لوړ او اوچت دي، هغه اسلام چې موږ ورته بلنه کوو، په یوازې سرکولای شي دا امت له ټولو اقتصادي، فکري، سیاسي، عقیدوي، ټولنیزو، او اخلاقي ستونځو او مصیبتونو چې امت ورسره لاس او گریوان دی راوباسي، یوازې په اسلام ،او ددې دین اصلی لارې ته په ورگرځیدو کولای شو ،له ټولو بد مرغیو، فسادونو، عیبونو، او نیمگړتیا ؤ چې زموږ امت ورسره لاس او گریوان دی، خلاص او را وباسو، پرته له دې به موږ خپل وخت یوازې په تجربو له لاسه ورکړی وي .او مثال به مو د هغه خره په شان وي چې دژرندې چارپیره گرځي او یا دهغه غوائي وي چې سترگې ئې تړلې پرته لدې چې کومې موخې ته ورسیږي په خپل مړوي گرد را گرځي، موږ له اسلام پرته د خلاصون بله لاره نه لرو .ددې نا ورینونو څخه زموږ دخلاصون یوازینۍ لار اسلام ته بیرته راگر ځیدل دي.کامل او متوازن اسلام ته ،د قرآن او سنتو اسلام ته، دپیغمبر (صلی الله علیه وسلم) اصحابو کرامو او دهغوی دلارویو اسلام ته؛ هغه اسلام ته چې هیڅ نیمگړتیا نلري هغه اسلام ته چې ښوونې او لومړیتوبونه ئې سره بیل بیل دي، هغه اسلام چې نفسونه په ایمان او تزکیه،ټولنه په اخلاقو او یووالي، حکومت په عدالت او شورۍ،نړۍ په

آبادي اصلاح کوي .دا هغه اسلام دی چې موږ پرې ایمان لرو او خلك ورته رابولو، په دې باور لرو، له دې پرته چې منګولې پرې ټینګې کړو؛ په بل څه د دنیا خوښې او په آخرت کې د الله تعالی رضایت نشو تر لاسه کولای .نو په همدې دین به ټینګ ولاړ ؤ او تل به خلك ورته رابولو،په همدې لاره به خپل ژوند ته دوام ورکوو،په همدې د ین به مرو .که په دې لاره کې هر څومره ستونزې هم وی .

وروڼو او خویندو! په دې باور او عقیده لرو چې راتلونکی به داسلام او اسلامي تمدن په برخه وي.ټول پردي دعوتونه او ډلې به ؛ دختیځ څخه راغلې او که دلویدیځ څخه دلته ماته خورې ،دوی به نا امیده او تش لاسونه زموږ له هیوادونو کډه باروي ،دالله تعالی دین به بریالی اودالله تعالی وعده به په ځای کیږي، چې فرمائي:(وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لاَ يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ).[٢٧] یعنی: الله تعالی ستاسو څخه هغو کسانو ته چې ایمان ئې راوړی او نیك کارونه ئې کړي وعده ورکوي چې دوی به په ځمکه خلیفه ګرځوي، لکه څنګه چې د دوی څخه مخکې ئې خلیفه ګرځولی ؤ. نو یوازینی شیء چې په دې آیت کې ئې له مونږه غوښته شوي او مونږ ته ئې پرې وعده راکړې هغه: دهغو کسانو صفات په ځان کي پیدا کول دي کوم چې ایمان ئې راوړی او نیك کارونه ئې کړي،دالله تعالی عبادت وکړو او هیڅ شی ورسره شریك نکړو،وروسته به دالله تعالی دنصرت او کا میابی د زیري انتظار باسو.(وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ

---

[٢٧]-د النور سورت (٥٥) آیت

﴿٤٠﴾ الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ﴾[۲۸] .(حج ۴۰-۴۱)آیتونه.

اقول قولی هذا و استغفر الله لي ولكم، صلى الله على سيدنا محمد و على آله و صحبه.

والسلام عليكم ورحمة الله و بركاته.

[۲۸]- د الحج سورت (۴۱ ) آیت